# شفاعت

## د بدلون عامل اوسئ

### د پیل ټکی

څه وخت مو اړتیا لیدلې ده او توانېدلي یئ چې د هغه په تړاو بدلون منځ ته راوړئ؟
څه وخت مو اړتیا لیدلې ده، خو د هغه په تړاو د بدلون په راوستلو بریالي شوي نه یئ؟

### بحث او خبرې

زمونږ په ننۍ ټولنه کې او په هغه نړۍ کې چې مونږ ژوند کوو، ډېرې اړتیاوې شته. په دې هفته کې کومې اړتیاوې ستاسو پام ځانته راواړاوه او ستاسو زړه یې لمس کړ؟

### په کلام باندې تعمق او غور

خپل شا او خوا ته هر چېرې چې وګورو، درد او ستونزې ګورو. جسمي اړتیاوې، احساساتي خپګان، اقتصادي ستونزې، سیاسي ګډوډي او داسې نور.
ځیني وخت ډېرې اړتیاوې شته او مونږ احساس کوو چې مونږ توان نه لرو هغه تر لاسه کړو.
مونږ د خدای د اولادونو په توګه کله چې د داسې ننګونو سره مخامخ کېږو، عاجز او ناتوانه یو. خو مونږ پیاوړي وسایل لرو چې وضیعت په پوره توګه بدلولای شي، او دا وسایل، د شفاعت دعا ده.
لاندې ایتونه ولولئ.
په دې ایتونو کې، مونږ د دعا په هکله څه زده کوو؟ د کومو اړتیاوو دپاره کولای شو دعا وکړو؟

- اول تیموتائوس ۲: ۱-۴
- ارمیا ۲۹: ۷
- فیلیپیان ۱: ۱۹- ۲۰
- کولسیان ۴: ۲-۳
- یعقوب ۵: ۱۵-۱۶
- فیلیپیان ۱ :۹-۱۱

### اصلي مفکوره

**زمونږ دعاګانې کولای شي چې زمونږ شا او خوا نړۍ بدله کړي.**
مونږ ته بلنه راکړل شوي ده چې د دعا له لارې نه یوازې د خپل شخصي اړتیاوو د مرستې غوښتنه وکړو، بلکې د نورو دپاره هم د شفاعت غوښتنه وکړو - په حقیقت کې دا یو فرصت دی چې کولای شو د خدای حضور ته لاړ شو او د نورو له خواه د هغوی غوښتنې وغواړو، حتی د هغو کسانو دپاره هم چې هغوی مو هیڅ نه وي لیدلي. کله چې دعا کوو، د اسمانونو او ځمکې خدای زمونږ خبرې اوري او هغوی ته به ځواب ورکړي. پرته له دې چې ایا مونږ زیات وخت کیږي چې ایمان لرو یا نه، کولای شو تل د دعا له لارې د خپل شا او خوا نړۍ باندې اغیزه واچوو.

ځیني وخت زر د خپلې دعا ځواب لاس ته راوړو، خو بیا داسې وختونه هم شته چې مونږ خپلې دعا ته په وفادارۍ سره دوام ورکوو دا هم په داسې حال کې چې مونږ هیڅ بدلون او یا پرمختګ نه ګورو.
کله چې مونږ د شفاعت غوښتنه کوو، پخپله خدای زمونږ دعا اوري او ځواب ورکړي. د هغه د ځواب ځرنګوالی به زمونږ د مهالویش او غوره توبونو سره سم نه وي، خو هغه به تل د خپلې نیکۍ سره مونږ ته ځواب راکړي.
ډېر وختونه زمونږ دعاګانې په داسې طریقو سره تر سره کیږي چې مونږ یې د لیدلو توان نه لرو، ځکه زمونږ کار دعا کول او په هغه باندې ټینګ درېدل دي.
او بیا دعا ته دوام ورکړئ لکه څنګه چې موږ ټول په افیسسیانو
۶: ۲۰-۱۸ کې هڅول شوي یو.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

د لاندې شیانو په هکله د یوې اړتیا نه چې خبر یئ، ورته اشاره وکړئ:

- خپلې کورنۍ
- ملګري
- د خپلې سیمې کلیسا
- په هغه ښار کې چې ژوند کوئ
- خپل هېواد او هغه ځوک چې د هغه مشري کوي
- نړۍ

مونږ کولای شو د رباني دعا نه د مثال په توګه د شفاعت کولو دپاره کار واخلو. په دې اعلان سره يې پيل کړو چې خدای نېک او قادر دی. له هغه وغواړئ چې د هغه پاچاهي او د هغه پوره او نېکه اراده په دې تولو شرایطو کې عملي کړي. له خدايه وغواړئ د خاصو اړتیاوو دپاره، که عاطفي، جسمي، مالي یا روحاني وي، له خدايه وغواړئ چې د شیطان په وړاندې ستاسو ساتنه وکړي او تاسو وژغوري. دعا کولو ته مخه کړئ.
د دوو دقیقو دپاره د یو بل سره د دې تولو اړتیاوو دپاره دعا وکړئ. له خدایه وغواړئ تاسو ته وښيي چې د خپلې هرې اړتیا د پوره کولو دپاره کوم عملي ګامونه کولای شئ واخلئ.
کله چې دعا کوو، په حقیقت کې مونږ د بدلون عامل یو، نو ځکه راځئ په وفادارۍ سره دعا وکړو، تر څو د خپلې دعا له لارې د خدای د کارونو شاهد شو.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- د دعا کولو دپاره یو مهالویش تیار کړئ او هغه موضوعات چې د هغه دپاره دعا کوئ په هغه کې ولیکئ. امکان لري د ځینو برخو دپاره وغواړئ چې هره ورځ دعا وکړئ او د نورو برخو دپاره په هفته کې په ترتيب شوي نقشې سره دعا وکړئ. په دعا کولو کې باید ثابت اوسئ او په ډېر جدیت سره دعا کولو ته دوام ورکړئ!
- هغه ځوابونه چې د دعا کولو څخه وروسته لاس ته راوړئ، هغه ولیکئ!

کله چې ګورئ خدای ستاسو دپاره یو کار کوي، د خپلې دعا د غوښتنې په خواه کې هغه ولیکئ چې څنګه خدای ستاسو د دعا د غوښتنو په تړاو ځواب درکړی دی، بیا هغه له نورو سره شریک کړئ، ترڅو د نورو دپاره د هڅونې سبب شي.

- د خپلې کلیسا د مشرانو څخه پوښتنه وکړئ چې په دې هفته کې د کومو مضوعګانو دپاره غواړي دعا وکړي او تاسو هغه شیان د خپل ورځني لست په دعا کې ورزیات کړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved